PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۹۹۴

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۹۴مه گڼه، پر له پسې ۲۰۶۹ گڼه د ۱۳۸۹ ل.د کب ۱۵مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق ربیع الاول ۳۰ مه د ۲۰۱۱ د مارچ ۶ مه

د اسلامي کنفرانس سازمان:

په افغانستان کې باید جګړې ته د پای ټکی کېښودل شي!

د اسلامی کنفرانس سازمان عمومي منشي، اکرام الدین احسان اغلو په جده کي د افغانستان په هکله یوې غونډې ته وویل: «په افغانستان کي د امن او سولې د اعادې لپاره باید پر ته له پوځي اقداماتو نورو لارو چارو ته پام واړول شي. په جده کې د اسلامي کنفرانس د سازمان په کور به توب د افغانستان په هکله د تماس نړیوالېډلې وویل چې په افغانستان د پوځي او سیاسي هڅو تر منځ باید اندول رامنځ ته شي، یوازې پر جنګي عملیاتو تکیه ونه شي.

۳مخ

د ولسي جرګې د لومړي مرستیال څوکۍ ته سیالي لا هم جریان لري



د ولسي جرګې د لومړي نایب لپاره پرون د کب پر ۱۴مه د دویم ځل لپاره ټاکنې وشوې. په دې ټاکنو کې د کندهار استازی خالد پښتون، د پنجشېر استازې قاضي راحله سلیم، د کابل استازې فاطمه نظري او د بادغیس استازی محمد سرور فایض کاندید وو.

د ولسي جرګې په پرونۍ غونډه کې د ۲۴۹ وکیلانو له ډلې ۲۲۲ تنه حاضر وو او دغې څوکۍ ته د بریالیتوب لپاره یې باید ۱۱۲ رایې تر لاسه کړې وای.

خو په دغو ټاکنو کې پښتون ۱۰۲، راحلې سلیم ۵۷، فاطمې نظري ۱۸ او فایض ۲۹ رایې تر لاسه کړې.

د لومړي مرستیال ټاکلو لپاره د پرونیو ټاکنو په لومړي پړاو کې ۷ باطلې او ۸ سپینې رایې کارول شوې وې.

د کورنیو دندو د اصولو د نهمې مادې له مخې، د ولسي جرګې د لومړي مرستیال څوکۍ ته کاندیدان، چې په لومړي پړاو کې لازمې رایې (۵۰+۱) تر لاسه نه کړي، ټاکنې دویم او دریم پړاو ته ځي.

د ولسي جرګې د کورنیو دندو د اصولو له مخې، که چېرې د دغه جرګې د لومړي او دویم مرستیال څوکۍ ته کاندیدان د ټاکنو په دریم پړاو کې هم لازمې رایې تر لاسه نه شوای کړای، په راتلونکو ټاکنو کې د کاندیدېدو حق نه لري.

د ولسي جرګې د کب د ۱۴مې، غونډه د دویم نایب احمد بهزاد په مشرۍ جوړه شوې وه. بهزاد وویل، چې د غونډې په دویمه برخه کې د نصاب د نه پوره کېدو له امله به ټاکنې سبا د پښتون او راحلې سلیم تر منځ د دویم ځل لپاره ترسره شي.

۳مخ

په غزني کې د ۶۸ ښوونځیو نوې ودانۍ یوازې ژمنه او که عمل هم؟

په غزني کې به د مرکز او ولسوالیو په ګډون په نوي ښوونیز کال (۱۳۹۰) کې د ۶۸ ښوونځیو لپاره نوې ودانۍ جوړې شي. د غزني د پوهنې رییس حسني مبارک عزیزي د خواجه عمري له ولسوالۍ څخه د لیدنې پر مهال هلته په یوه خبري ناسته کې له رسنیو سره د یادو ښوونځیو د جوړیدو خبر ورکړ. نومورې وویل، چې په دې ۶۸ ښوونځیو کې لومړني، منځني او لېسې شاملې دي، چې د نوي کال په پسرلي کې به یې په عملي توګه کار پیل شي. هغه زیاتوي، چې دغه ښوونځي به په پاخه او اساسي ډول شي، چې هر یو به یې اته، ۱۲ او ۱۴ درسي خونې ولري. د پوهنې د رییس په وینا، چې د دې ودانیو د جوړیدو لپاره به د پوهنې وزارت د پوهنې د کیفیت د لوړوالي پروګرام (ایکویف) د جاپان او ایران سفارتونه او دغه راز په غزني کې مېشت د ولایتي بیارغونې امریکایي ډله یې پیسې ورکړي. د عزیزي په خبره، چې په منځني ډول د هري ښوونځي پر ودانۍ به ۱۳۰ زره امریکایي ډالره لګښت راشي، چې تولیز لګښت به یې نږدې اووه میلیونه امریکایي ډالروته ورسېږي. د پوهنې رییس د خواجه عمري ولسوالۍ له خلکو سره په دې ولسوالۍ کې د درېیو ښوونځیو د



ودانیو د جوړېدو ژمنه وکړه. دده په وینا، چې د ۲۰۱۲ میلادي کال تر پایه به د غزني ټول ښوونځي ودانۍ ولري. غزني اوس ټول ۵۶۷ ښوونځي لري، چې څلوېښت سلنه یې ودانۍ نه لري او زده کوونکي یې تر خېمو او یا د دوو تر سیوري لاندې زدکړه کوي. د خواجه عمري ولسوال محمد قاسم دیسیوال خپلې سیمې ته د چاروا کو د زیاتې پاملرنې غوښتنه وکړه، خو زیاته یې کړه، چې د دې ولسوالۍ له ۱۲ ښوونځیو اوس یوائې پنځه یې ودانۍ نه لري.

چپ‌های فرانسه خواستار رای‌گیری دربارهٔ حضور نظامی در افغانستان شدند

وزیر دفاع فرانسه بر مواضع پاریس دربارهٔ جنگ افغانستان و حضور نظامی این کشور در این جنگ تاکید کرد. به گفتهٔ وی، امروز هدف نیروهای فرانسوی در افغانستان، برگرداندن مسوولیت ها به نیروهای افغان است.

به گزارش رادیو بین المللی فرانسه، سناتوران فرانسوی از احزاب سوسیالیست و کمونیست اعلام کردند که در کشورهای دیگر عضو ایتلاف بین المللی، دربارهٔ جنگ افغانستان در پارلمان و سنا، نشست‌های متعددی برگزار شده است.

این در حالی است که «ژرارد لانگه»، وزیر دفاع فرانسه بر مواضع پاریس دربارهٔ جنگ افغانستان و حضور نظامی این کشور در این جنگ، تاکید کرده است.

به گفتهٔ وی، امروز هدف نیروهای فرانسوی در افغانستان، برگرداندن مسوولیت‌ها به نیروهای افغان است.

ژرادر لانگه در این باره گفته است: "اگرچه این روند طولانی یی است، ولی تلاش‌های ما نتیجه می‌دهد."

بازی ها و معامله های قدرت مندان و سردرگمی مردم

شماری از نامزدان معترض انتخابات، ضمن متهم ساختن مسولان محلی به مداخله در پروسهٔ شمارش مجدد آراء، از دریافت تقلب



نتیجهٔ شمارش مجدد، نشان می دهد که باید تعدادی از وکلای ولسی جرگه، تعویض شوند.

داوود سلطانزوی نامزد معترض از ولایت غزنی، به نمایندگی از دیگر معترضان گفت که به اساس اطلاعات دست داشتهٔ نامزدان معترض و ثبوت مدارک تقلب در ولایات، امکان دارد، یک تعداد از وکلای ولسی جرگه، تعویض شوند.

موصوف افزود: "در نتیجهٔ بررسی ها در ولایت بدخشان، حد اقل ۴ الی ۵ تن

ص۳

در خشونت های تازه؛

یک سرباز ناتو و سه سرباز اردوی ملی کشته شدند

در خشونت های تازه در سراسر کشور دیروز به شمول یک سرباز ناتو سه سرباز اردوی ملی کشته و سه سرباز پولیس ملی زخمی شدند.

در خبرنامه یی که دیروز از سوی دفتر مطبوعاتی نیروهای بین المللی حافظ صلح (آیساف) به رهبری ناتو در کابل، به رسانه ها مواصلت کرده، گفته شده که این سرباز روز گذشته در انفجار ماین، در جنوب افغانستان کشته شده است.

منبع، در مورد هویت سرباز کشته شده و محل دقیق رویداد، معلومات نداده، اما در جنوب کشور، بیشتر سربازان امریکایی مستقر می باشند.

گفتنی است که نیروهای ناتو، هفتهٔ گذشته از کشته شدن هفت سرباز خود در شرق، جنوب و غرب افغانستان نیز، خبر داده بودند.

از آغاز سال جاری میلادی تا حال، تعداد سربازان کشته شدهٔ خارجی در

ص۳



د خصوصي روغتونو دروغجن تبلیغات! ۲

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سر مقاله

آیا هلمند واقعا امن شده است؟

ولایت هلمند یکی از ناامن ترین ولایات کشور به شمار می رود؛ این ولایت در کنار اینکه یکی از بزرگترین مراکز کشت، پروسس و تولید مواد مخدر در کشور است، طی ده سال گذشته، صحنهٔ نبرد خونین بین نیروهای خارجی و طالبان نیز بوده است، چنانکه طی این مدت، تنها ۳۰۰ سرباز بریتانیایی و افزون بر ۴۰۰ عسکر امریکایی، سویدنی و دنمارکی در نتیجهٔ حملات طالبان جان های شان را در این ولایت از دست داده اند. نیروهای خارجی هم از هیچ تلاش نظامی فروگذار نکرده اند؛ این نیروها، تنها در جریان سال گذشته، چندین عملیات بزرگ و پرمصرف را در این ولایت بر علیه نیروهای طالبان به راه انداختند که طی آن، ولسوالی مارجه ظاهرا از تسلط طالبان خارج شد، اما اینکه بازهم در این ولسوالی چه می گذرد و مردم با چه مشکلاتی دست و پنجه نرم می کنند، این موضوع هم بر همگان روشن است. بادرنظرداشت این وضعیت و شرایط، مردم ملکی این ولایت طی یک دهه حضور قوای نظامی خارجی در کشور، تلفات بزرگ را متقبل شده اند، هزاران تن کشته، معلول، معیوب، یتیم شدند و هزاران تن دیگر آوارهٔ و مجبور به ترک خانه ها و رهسپار کشورهای همسایه و یا ولایت های نسبتا امن شدند.

این در حالی است که مقام های ناتو و امریکایی اکنون ادعا دارند که امنیت این ولایت نسبت به گذشته، بهبود یافته است.

تورن جنرال ریچارد میلز قوماندان نیروهای آیساف در جنوب و شرق کشور روز گذشته طی یک صحبت ویدیویی به سوالات خبرنگاران در وزارت دفاع امریکا در واشنگتن، در مورد وضعیت هلمند ابراز داشت سربازان خارجی با وجود سرمای شدید زمستان، فشارهای خود را بر طالبان دوام داده و مناطق زیادی را از قبضهٔ مخالفان مسلح خارج ساخته اند.

جنرال میلز به طور مشخص در بارهٔ پیشرفت ها در مرکز ولایت هلمند لشکرگاه و ولسوالی سنگین صحبت کرده و گفت که به کمک قوای امنیتی افغان در این مناطق امنیت نسبت به گذشته به درجهٔ چشمگیر بهتر شده است.

به هر حال، کوشش ما این نیست که ما دستاوردهای نیروهای خارجی و یا داخلی را در برابر طالبان کم جلوه دهیم؛ در واقع این خواسته و آرزوی هر افغان است که مسکن و مامنش امن و از ثبات برخوردار باشد و آنها در یک فضای صلح آمیز به کار و روزگار پرداخته و به زنده گی آرام شان ادامه دهند، اما اینکه واقعیت چیست، آیا هلمند واقعا امن شده است و آیا مردمان این دیار به آروزی دیرینهٔ شان که صلح و ثبات است، واقعا دست یافته اند؟ این پرسش هایی است که باید در روند ارزیابی و بررسی رویدادهای جاری این ولایت مورد پژوهش قرار داد و بر مبنای آن قضاوت کرد.

درست دو روز قبل از این اظهارات جنرال میلز، مقام های امنیتی در ولایت هلمند از دریافت اجساد چهار تن خبر داده و گفته بودند که در میان این اجساد، دو پولیس و دو فرد ملکی دیده می شود. رویدادهای ناامنی دیگری که هم اکنون روزانه در این ولایت رخ می دهد، زیاد است، اما ما همین یک مورد را به عنوان مشت نمونهٔ خروار پیشکش داشتیم که خود وضعیت جاری این ولایت را به نمایش می گذارد؛ نیروهای ناتو و افغان همواره در مورد امنیت و ثبات سخن گزاف گفته و واقعیت های اصلی را پنهان می کنند. بارها گفته شده است که فلان مناطق امن است، اما فردای آن روز، همان منطقه شاهد رویدادهای خونبار ناامنی و خشونت بوده است. ما به یاد داریم که چندی قبل مقام های امنیتی محلی کنذز اعلام داشتند که ولایت کندز دیگر امن شده است، ولی از این اظهارات ساعاتی سپری نشده بود که حملات انتحاری و بمی در این ولایت جان ده ها تن را گرفت.

بنابراین، باید گفت که تامین امنیت در کشور و استقرار ثبات به اظهارات سر ستیج مقام ها که در برخی موارد از واقعیت های عینی و موجود، فرسنگ ها فاصله می داشته و با مبالغه ها رنگارنگ همره می باشد، حاصل نمی شود؛ بلکه حصول و تحقق این امر، در مطابقت به واقعیت های جامعهٔ ما، نیازمند توجهٔ جدی، برنامه های کارا، تلاش های پیگیر و اصلاحات راستین در اداره است؛ تا زمانی که فقر در جامعه همچنان حاکم باشد، فساد اداری در اداره های دولتی بیداد نماید؛ به زیربناهای اقتصادی مردم و کشور توجه صورت نگیرد ، جنگ دسالاران و قدرتمندان داخل هستهٔ قدرت دولتی و بیرون از آن همچنان بر سر مردم بکوبند، فکر نمی شود که تنها با میل تفنگ این مامول برآورده شود.

د خصوصي روغتونونو دروغجن تبلیغات!

نسیم بریال



له ډېرې مودې راهيسې خصوصي روغتونونه داسې پروپاګند بادوي، چې ته به وايې د مرګ او ژوند ويزې او ټکټې يوازې له دوی سره دي. دغه خصوصي روغتونونه چې ډېرې يې د ولسمشر کرزي په دوران کې رامنځ ته شول او د فعاليت اجازه ورته ورکړل شوه، نو له خپل شتون سره يې پر ځينو تبليغاتو هم لاس پورې کړ. هره ورځ او هره شپه د ټلويزيونونو پر څپو د خصوصي روغتونونو داسې اعلانونه او تبليغات خپرېږي، چې سړی ورته حيران پاتېږي، ځکه هغه څه چې دوی يې وايي او اعلانوي يې، نو دومره غلو په کې کوي، چې سړی دې ته اړوځي، چې هرومرو بايد خصوصي روغتونونو ته ورشي. بله مسئله داده، چې د دوی ترمنځ سيالي هم ښه په درز کې روانه ده، هر روغتون غواړي، چې ځان تر هغه بل پورته او پر وسايلو مجهز وبولي او په دې سره دوی هڅه کوي، چې خپل مراجعين زيات کړي. خو که د دغو روغتونونو دننه حالت بيا وڅېړل شي، نو لکه څنګه چې دوی اعلانونه کوي، نه هغسې معاينات شته، نه دوا او نه هم نورې روغتيايي چارې. خلک هم تر ډېره کله چې د دوی دا غوړ غوړ اعلانونه اوري، نو که يوه روپۍ لري، لس ورته پور اخلي او خصوصي روغتونونو ته ځان رسوي او فکر کوي، چې دوی به هلته ژر ترژه روغتيا مومي، خو په اصل کې خبره داسې نه ده. سره له دې چې د دغو روغتونو بيې او فيسونه تر اندازې ډېر لوړ دي او بهوزلي کسان خو يې تر وره پورې هم نه شي رسېدلای، خو بيا يې هم مراجعين زيات وي او دا ټول د دوی د ناسمو تبليغاتو له امله دي. خو که له روغتيايي پلوه د دوی اغېزمتوب وڅېړل شي، نو ډېری خلک ترې شکايت کوي او وايي، چې هلته د دوی سمه درملنه نه کېږي او بله دا چې ځينې وختونه داسې هم شوي، چې د دوی په اصطلاح له ماډرنو وسايلو سره سره بيا هم د ناروغ د معاياناتو پايلې په يوه روغتون کې يو خپل او په بل کې بل خپل راوتي دي او دا خبره د دې ښکارندويي کوي، چې تشخيص په کې سم نه کېږي، کيفيت لکه څنګه چې بايد وي، هغسې نه دی او هسې د خپل زېښناک لپاره غوړ او اشتهاري اعلانونه خپروي او په دې سره خلک د ځان لور ته ورماتوي.

سره له دې چې د عامې روغتيا وزارت وايي، چې د خصوصي روغتونونو پر کړنو څارکوي، خو يو شمېر هېوادوال د دا وړ روغتونونو له کړنو سره ټکوي. دغو روغتونونو ته ورغلي ځينې ناروغان د زيات لګښت او د ټيټې کچې له درملنې هم شکايت کوي او ان ځينې خلک وايي يو شمېر روغتونه دداسې روغتيايي اسانتياوو اعلان هم کوي چې په روغتون کې يې نه لري. خو د عامې روغتيا وزارت وايي، دوی د افغانستان په بهلابهلو ولايتونو کې د ټولو هغو شته خصوصي روغتونونو کړنې څاري چې دا مهال يې بهلابهلې رسنۍ سوداګريز پيغامونه خپروي.

مرستيالې وزيرې نادرې حيات برهاني په دې اړه ويلي، په دې تړاو يې له ټولو رسنيو غوښتي چې د روغتونونو ټول تبليغاتي اعلانونه او خبرتياوې بايد د وزارت تر کتلو وروسته خپرې کړي: ((دغه اعلانونه چې دوی يې خپروي تر يوه بريده زمور تر څارنې لاندې دي او تر يوه بريده مور هم ورسره ستونزې لرو. مور څو، څو ځلې دوی ته مکتوبونه هم استولي او ترې غوښتي مو دي، هر اعلان چې د وزارت له خوا نه وي تاييد شوی بايد خپور نه شي، خو دلته د ازاد بازار خبره هم په

۳مخ

له ماشومانو سره ناوړه چلند او پر هغوی يې ناوړه اغېزې

میوند

مور او تاسې هره ورځ وينو چې نه يوازې په ښارونو، بلکې په ټول افغانستان کې له ماشومانو سره ناوړه چلند کېږي او له هغوی څخه په داسې ډول استفاده کېږي، چې هغه نه له قانون سره مطابقت لري او نه هم له نورو فزيکي نورمونو سره. له ماشومانو څخه ناوړه استفاده له ډېر پخوا نه په افغانستان کې روانه ده او حتا دا موضوع بېخي نژدې ده، چې پر يوه فرهنګ بدله شي او يا د فرهنګ يوه برخه تشکيل کړي. ځکه چې ښارونو ته متوجه شو، نو هره ورځ وينو چې اکثره ماشومان داسې کارونه کوي، چې د هغوی له توان او قدرت څخه لوړ او يا لرې وي. زمور ټولنه ډېره غريبه او فقيره ټولنه ده او دې فقر او غربت نه يوازې په ځوان قشر ډېر ځپلی، بلکې پر ماشومانو يې هم ډېره ناوړه اغېزه اچولې ده. مور وينو چې ډېر ماشومان د دې پرځای چې مکتب ته لاړ شي، د کور لپاره ډوډۍ او پيسې ګټي او پر داسې ناځيزو کارونو بوخت وي، چې د ټولې ورځې ګټه يې ښايي ۵۰ افغانۍ هم نه وي، يا نې دوی يا پلاستيکونه خرڅوي، يا نورې لاسي کراچۍ چلوي او يا هم دې ته ورته نور کارونه کوي او ځينې خو بيا داسې سخت او درانه کارونه هم مخ ته وړي، چې اصلاً دوی له توان او قدرت سره برابر نه وي. د افغانستان يوه نادولتي ارګان هم دې ټکي ته اشاره کړې او په دې هکله يې خپله اندېښنه څرګنده کړې ده. د افغان ښځو د شبکې په نامه د دغه بنسټ ارزونه ښيي چې جنسي تېري، ځوروني او درانه کارونه هغه مهمې ننګونې دي چې افغان ماشومان ورسره په دغه هېواد کې لاس او ګرېوان دي. د افغان ښځو شبکه چې شاوخوا ۷۰ نادولتي ټولنې يې غړيتوب لري، خپله دغه اروزنه د پلازمېنې سربېره په هرات، ننګرهار او د بامیانو په ولايتونو کې ترسره کړي چې په ترڅ کې يې له څه باندې ۵۰۰ کسانو سره مرکې شوې دي. د افغان ښځو د شبکې يوې چارواکې ويدا لطيف ويلي په دغه اروزنه کې په خپله له ماشومانو، کورنيو او حکومتي ادارو سره د ماشومانو د وضعيت په اړه خبرې شوې دي: ''له هغو ماشومانو سره چې مرکې شوې ۴۰ په سلو کې يې له درنو کارونو شکايت کړی، حکومتي ادارو بيا ويلي چې ۶۰ په سلو کې ماشومان درانه کارونه ترسره کوي، خو کورنۍ بيا په دې باور وې چې ۲۰ په سلو کې ماشومان يې سخت کارونه کوي. ۸۰ په سلو کې ماشومانو له ځورونو شکايت لاره، خو کورنيو او حکومتي ادارو په دې اړه له نظر ورکولو ډډه کړې. زمور د دې اروزنې له مخې ماشومانو په خپله د جنسي تيريو په اړه څه نه دي

۳مخ

بازی ها و معامله های قدرت ...

تغییر خواهند کرد."

موصوف علاوه نمود که در جریان شمارش مجدد آراء در ولایات خوست، ننگرهار، هرات، فاریاب، تخار، پروان و پکتیا نیز، تغییر فاحش دیده شده است.

وی اظهارداشت که چنین تغییرات؛ نمایانگر حقانیت ادعای نامزدان معترض است.

از سوی دیگر، سلطان زوی ادعا کرد که بعضی از والیان و سایر مقام های محلی، در شمارش مجدد آراء مداخله نموده و می خواهند، این پروسه راتحت تأثیر خود داشته باشند.

وی در حالی که از کدام مقام دولتی محلی نام نبرد؛ اما هشدار داد که باید این مسوولان، از مداخله در پروسهٔ شمارش مجدد آراء جلوگیری نمایند؛ در غیر آن، با برخورد جدی نامزدان معترض مواجه خواهند شد.

موصوف گفت: "اگر از مداخله و خلاف ورزی دست نبردارند، نامزدان معترض این توانایی را دارند که در هر ولایت، در مقابل آنها قرار گرفته و تا گلیم شان جمع نگردد، آرام نخواهند نشست."

سلطانزوی همچنین از رییس جمهور خواست، تا در مورد مداخلهٔ مسوولان محلی، توجه جدی کند.

موصوف افزود: "رییس جمهور کشور به حیث مسوول، در این مورد توجه جدی کند و زیر فشارهای سیاسی و زورگویان قرار نگیرد."

درحال حاضر، شمارش مجدد آراء در ۱۳ ولایت به حکم محکمهٔاختصاصی جریان دارد و قرار است، تمامی آرای انتخابات ۲۷ سنبله، زیر نظر هیأتی از ۱۴ ارگان بازشماری شود، اما ولسی جرگهٔ افغانستان، بر عدم قانونیت فعالیت های محکمه تاکید داشته و چندین بار از رییس جمهور خواسته است، تا این محکمه را لغو نماید.

در این حال، عبدالکبیر رنجبر نامزد معترض از ولایت کابل که به نماینده گی از نامزدان معترض در این نشست خبری صحبت می کرد، در مورد این تقاضای ولسی جرگه واکنش نشان داده گفت که رییس جمهور، بر مبنای قانون صلاحیت لغو این محکمه را ندارد.

رنجبر اظهار داشت که مطابق مادهٔ ۱۲۲ قانون اساسی، هیچ ساحه نمی تواند، از دایرهٔ صلاحیت قوهٔ قضاییه خارج شود.

وی افزود:"چنین خواست ها و تصاویب ولسی جرگه، سطح پایین فهم مجلس را از قانون اساسی نشان می دهد." رنجبر علاوه نمود که ولسی جرگه، با استفادهٔ سوء از صلاحیت خود، می خواهد محکمهٔ اختصاصی در مورد انتخابات را لغو کند.

انتخابات دور دوم ولسی جرگه، با ادعاهای گستردهٔتقلب به همراه بود؛ با وجود اینکه نهاد لوی څارنوالی مدعی است که تقلب ها مشروعیت این پروسه را زیر پرسش قرار داده؛ اما نهادهای انتخاباتی بارها بر شفاف بودن و قانونی بودن این پروسه تاکید دارند؛ در همین حال، در حالی که نامزدان معترض بر وجود محکمهٔ اختصاصی تاکید می کنند و فعالیت های آن را قانونی می دانند، اما نماینده گان ولسی جرگه این محکمه را غیرقانونی و خواستار الغای آن هستند؛ این بازی های سیاستمداران، در نهایت مردم را با سردرگمی مواجه ساخته است؛ آنان راه را گم کرده اند؛ نمی دانند که حرف کدام مرجع و یا صاحب را در حالی که هر کدام از ستیج قانون حرف می زند و بر مبنای اصولگرایی عملش را تمثیل می نمایند، بپذیرند و به کی ها اقتدا نمایند.

یک سرباز ناتو و سه سرباز اردوی...

مناطق مختلف افغانستان، به حدود ۷۰ تن می رسد.

شمار تلفات سربازان خارجی در افغانستان، درسال ۲۰۱۰ میلادی، به ۷۱۱ تن طی حدود ده سال گذشته، جمعاً به ۲۳۴۸ تن می رسد.

از سوی دیگر، وزارت دفاع ملی نیز دیروز طی بیانیه یی اعلام کرد که سه سرباز اردوی ملی این کشور کشته شدند.

در این بیانیه آمده است که سه سرباز اردوی ملی در جریان انجام وظایف نظامی در ولایت‌های پروان و قندهار کشته شدند.

بنا بر این گزارش، یکی از این سربازها در ولایت پروان واقع در ۵۵ کیلومتری شمال کابل و دو سرباز دیگر در ولایت قندهار کشته شدند.

قندهار که مقر طالبان است، در ۴۵۰ کیلومتری جنوب کابل قرار دارد و در جریان چند سال گذشته به رغم ادامهٔ عملیات نیروهای ناتو، شاهد عملیات خشونتبار طالبان بوده است.

بنا بر این گزارش، بیش از ۸۰۰ سرباز افغان در سال ۲۰۱۰ میلادی در جریان عملیات نظامی جان خود را از دست دادند.

در همین حال، سه پولیس سرحدی در نتیجهٔ انفجار بر یک موتر آنها در ولسوالی چپرهار ولایت ننگرهار به قتل رسیدند.

مل پاسوال امین الله امرخیل قوماندان پولیس سرحدی زون اول به رسانه ها گفت که این انفجار ساعت دیروز ذریعهٔ ماین ریموت کنترول زمانی به وقوع پیوست که یک موتر رینجر پولیس سرحدی درحال عبور از منطقهٔ تریلی ولسوالی چپرهار بود.

امرخیل گفت که در این انفجار، موتر تخریب و سه پولیس مجروح شده اند که وضعیت صحی آنها قابل اطمینان است.

موصوف علاوه نمود که پولیس سرحدی یک فرد مشکوک را در محل حادثه همراه با یک بطری و ریموت کنترول دستگیر نموده که در لوای سرحدی تحت تحقیق قرار دارد.

معلم معشوق ولسوال چپرهار نیز به آژانس خبری پژواک گفت که انفجار دهنده در یک موتر کرولا فرار نمود که پولیس ولسوالی نتوانستند، وی را دستگیر نمایند، اما توسط پولیس سرحدی دستگیر گردید.

گفتنی است که پریروز، آمر جنایی ولسوالی حصارک ولایت ننگرهار در یک انفجار ماین کشته و دو پولیس دیگر زخم برداشتند.

مسؤولیت انفجار دیروزی را کسی به عهده نگرفته، اما مسؤولیت انفجار روز گذشته را طالبان مسلح به دوش گرفته ادعا نموده بودند که هفت سرباز دولتی را کشته اند.

طبق یک خبر دیگر، مقر نیروهای کوریا در افغانستان مورد حملهٔ راکتی قرار گرفت.

مقام های امنیتی کشور دیروز اعلام کردند: مقر نیروهای کوریای جنوبی واقع در ولایت پروان جمعه شب مورد حملهٔ دو راکت مخالفان مسلح قرار گرفت.

به گزارش خبرگزاری ایرنا، قوماندانان محلی پولیس در استان پروان گفته اند که این حادثه تلفات جانی در پی نداشته است.

همچنین برخی رسانه ها ازقول ذبیح الله مجاهد سخنگوی طالبان اعلام کردند که شلیک راکت به مقر نیروهای خارجی تعدادی کشته و خساراتی برجاگذاشته است.

باید گفت که این سومین بار است که طی دو ماه گذشته، مقر نیروهای کوریا در افغانستان مورد اصابت راکت قرار می گیرد.

شمار نیروهای کوریای جنوبی در افغانستان، بیش از ۲۰۰ سرباز اعلام می شود.

هفته گذشته نیز، طالبان دو راکت به مقر نیروهای امریکایی در بگرام شلیک کردند.

افزایش حملات طالبان در افغانستان درحالی است که تلاش ها برای مذاکره با این گروه از سوی دولت افغانستان و نیز حمایت و پشتیبانی امریکا و بریتانیا در دستور کار است.

د ولسي جرګې د لومړي مرستیال ...

د یادونې ده، چې د ولسي جرګې د لومړي نایب څوکۍ ته د کب پر ۱۰ مه، هم ټاکنې شوې وې، خو یوه کاندید هم خپله لازمه ۵۰+۱ رایه وانه خیسته. ملي شورا د روان کال د سلواغې په ۶ مه، پرانېستل شوه.

د پژواک د راپور له مخې، د اساسي قانون د ۸۷ مې مادې له مخې، د ملي شورا هره جرګه د کار په پیل کې له وکیلانو څخه یو تن د رییس په توګه د یوې تقنیني دورې لپاره، دوه وکیلان د لومړي او دویم نایب په توګه او دوه نور وکیلان د منشي او نایب منشي په توګه د یوه کال لپاره ټاکي.

له ماشومانو سره ناوړه چلند ...

ویلي خو ۴۵ په سلو کې کورنیو او چارواکو ویلي چې پرماشومانو جنسي تېري کېږي." مېرمن ویدا لطیف دا هم ویلي، د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالي د مخنیوي لپاره په کار داده چې ځینې قوانین جوړ شي چې پر بنسټ یې هم د ماشومانو حقونه خوندي شي او هم هغه کسان چې د ماشومانو په وړاندې له زور زیاتي نه کار اخلي مجازات کړل شي: "د حقوق پوهانو یوه ډله موجوده کړه چې هغوی پر قوانینو باندې کار وکړ چې څه ډول دغه ستونزې هوارولی شو او دوی دې پایلې ته ورسېدل چې مور باید یو حفاظتي قانون ولرو. یا نې وړاندې له دې چې پر ماشوم یو عمل ترسره شي، باید مور یو قانون ولرو چې داکس ونه شي کولی پر ماشوم همدا عمل ترسره کړي." له ناامنۍ سربېره د ماشومانو قاچاق، جنسي تېرې، درانه کارونه او په زور ودونه په افغانستان کې د ماشومانو پر وړاندې له مهمو ننګونو په ګوته کېږي. د دې ترڅنګ د قانون نه پلي کېدل هم هغه ستونزه یادېږي چې د بشري حقونو د څار ډلې وایي په افغانستان کې یې د ماشومانو له حقونو څخه تېرې ته یې لاره هواره کړې ده. د دغه راپور د څېړنې او ارزونې پر مبنا مور ویلای شو، چې له دې سره سره چې پر ماشومانو یو ډول ظلم روان دی او ناوړه چلند ورسره کېږي، خو دا ویل هم ضرور دي، چې له ماشومانو سره دا ډول چلند ماشوم له فزیکي اړخه هم ځپي او له رواني اړخه یې هم ځپي او دا دواړه ګوزارونه د ماشوم راتلونکی ژوند له سختو ستونزو او مصیبتونو سره مخامخ کوي. ځکه زمور په ټولنه کې اندول نه شته، لږ شمېر کسان په ډېره لوړه سطحه ژوندلري او هغوی بیا د ژوندانه په چارو کې تر حد زیاته مبالغه کوي او داسې کارونه کوي، چې د نورو ماشومانو چې د ژوند سطحه یې ډېره ټیټه ده، پر هغوی ناوړه اغېزه کوي او هغوی ته ځان یو ډول سپک او ټیټ ښکاري او دا له رواني اړخه ماشوم ډېر سخت ځپي او حتا د هغه د دایمي رواني ناروغۍ لامل هم کېدای شي. د دې لپاره د نن ماشومان چې د سبا ځوانان او د ټولنې جوړوونکي دي، باید د ژوند له هره اړخه ورته توجه وشي او دا توجه هم په دولت پورې اړه لري او هم د هغوی په کورنیو پورې او که دوی دې موضوع ته هسې بابېزه نظر وکړي او د ستونزې په حل کې ېږني او پر ځای ګامونه پورته نه کړي، نو ښایي دا ستونزه او حالت راتلونکې ټولنه له سختو ستونزو، نواقصو او ربړو سره مخامخ کړي.

د خصوصي روغتونو دروغجن ...

منځ کې ده، چې تر ډېره یې مور چوپه خوله ساتلي یو.))

له پورته خبرو ښکاري، چې په هېواد کې یوه مافیایي روغتیا او یا یو روغتیایي زېښناک پر دې ولس منګولې خښې کړي او له دې لارې وربانديې خپل راج چلوي. دوی دا وړ اعلانونه او تبلیغات هم د دې لپاره کوي، چې یوازې د خلکو بهیر ورمات کړي، نور نو د ناروغ، ناروغي او درملې هډو خیال هم نه وي. که د تبلیغاتو کچې او اعلانونو ته یې ځیر شو، نو باید یو افغان هم بهر ته د درملنې لپاره لاړ نه شي، په داسې حال کې چې هره ورځ له دې هېواده بهر نیو هېوادونو ته د ناروغانو بهیر روان دی. په دې توګه دولت ته اړینه ده، چې دوی ته دازاد بازار په نامه خپلواکي ورنه کړي او د هغوی ټولې روغتیایي کړنې یې په جدي توګه ونه څاري، لوازم او وسایل یې چک نه کړي، نو دا به لرې نه وي، چې دا روغتونونه یو وخت پر وژنتونو واوړي او ولس له یوه ستر ګواښ سره مخ کړي.

په افغانستان کې باید جګړې ته ...

د جدي دغونډې ریاست د افغانستان لپاره د المان د ځانکړي استازي میښایل شتاینر پر غاړه و.

هغه وویل: مور غواړو چې خپلو هڅو کې یو اندول رامنځ ته کړو، مانا دا چې تر اوسه پورې پوځي اړخ ته ډېر زیاته پاملرنه شوې وه.» د المان استازي زیاته کړه چې: «دا بسیا نه کوي، مور باید پر پوځي حل باندې تکیه ونه کړو. مور ډېر زیات باید سیاسي حل ته پام واړو، د پوځي او سیاسي هڅو تر منځ باید یو اندول رامنځ ته شي.» په جده کې د افغانستان د تماس نومې ډلې د هېوادونو د یوې غونډې کوربه توب داسلامي کنفرانس د سازمان پر غاړه و. دغه سازمان د غونډې په پرانیستلو کې وویل چې په افغانستان کې پوځي عملیات باید ودرول شي داسلامي کنفرانس سازمان دا هم وویل چې په افغانستان کې پوځي عملیاتو ته باید د پای ټکی کېښودل شي تر څو د روغې جوړې لپاره لاره اواره شي. دغه سازمان عمومي منشي، اکرام الدین احسان اغلو په جده کې د افغانستان په هکله یوې غونډې ته وویل: «په افغانستان کې د امن او سولې داعادي لپاره باید پر ته له پوځي اقداماتو نور و لارو چارو ته پام واړول شي. اسلامي کنفرانس سازمان د مسلمانې نړۍ تر ټولو ستر ارګان دی. هغه په جدي کې د افغانستان په هکله د نړیوال تماس نومې ډلې د غونډې کوربه توب پر غاړه اخیستی دی. دالومړی ځل دی چې دغه سازمان د افغانستان د قضیې په هکله په جدي توګه دریځ نیسي. په دغې غونډه کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر، زلمی رسول او د دغه هیواد د سولې د عالي شورا پلاوي چې مشري یې د برهان الدین ربانی کوي هم ګډون کړی. دغه پلاوي د جدي له غونډې څخه مخکې په انقره کې د ترکیې له مشرانو سره ولیدل او له هغو څخه یې د افغانستان د لانجې د حل لپاره غوښتنه وکړه. د اسلامي کنفرانس سازمان وویل چې هغه چمتو دی د افغانستان د سولې په پروسه کې مرسته وکړي. د جدي په غونډه کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا متحدو ایالاتو، بریتانیا او المان ځانکړو استازو هم ګډون درلود. د جدي د غونډې ریاست د افغانستان لپاره د المان د ځانکړي استازي میښایل شتاینر پر غاړه و.

در تلاش ها برای ایجاد مصر دموکراتیک؛

آیا عمروموسی، رهبر آیندهٔ مصر خواهد بود؟

گزارش - واشنگتن پست

عمروموسی که به وی به عنوان یکی از رهبران احتمالی آیندهٔ مصر نگریسته می شود، ۷۴ سال سن و تجارب دیپلوماتیک فراوانی دارد، اما ناظران معتقد اند که بعید است، جنبش جوان مصر از وی استقبال کرده و او را به عنوان رییس جمهور آینده برگزینند.

عمروموسی، یک دیپلومات با سابقه است که به دلیل اظهارنظرهای صریح اش مشهور است و حتا زمانی قهرمان یکی از ترانه های مردمی بود.

او یک عضو سابق رژیم حسنی مبارک، رییس جمهور مستعفی مصر بود، اما مقام های نظامی یی که مصر را اداره می کنند، از عمرو موسی خوش شان نمی آید. او مردی پا به سن گذاشته از قدرت گفت که قصد دارد، از سمت سرمنشی اتحادیهٔ عرب کناره گیری کند و خیلی ها معتقد اند وی می خواهد، رقابت های انتخاباتی اش را برای کاندیداتوری در انتخابات ریاست جمهوری مصر آغاز کند.

افرادی که عمروموسی را می شناسند، می گویند که او یک فرد پوپولیست و دنباله رو سیاست های جمال عبدالناصر، رییس جمهور اسبق مصر است. محبوبیت برجسته و مهم یاد می کنند و بر او اتفاق نظر دارند.

حتا آنهایی که دل خوشی از عمر وموسی ندارند، از او به عنوان گزینهٔ بد در برابر گزینه های بدتر نام می برند.

عمروموسی پیش از آنکه در سال ۱۹۹۱ به عنوان وزیر خارجهٔ مصر معرفی شود، دیپلومات این کشور در هند و سازمان ملل بود، به عنوان وزیر خارجه نقش پر نفوذی را در ابتکار عمل صلح اعراب با اسراییل در سال ۲۰۰۲ و اوضاع عراق پس از سرنگونی رژیم صدام، دیکتاتور سابق عراق ایفا کرد، اما اظهارنظرهای اندکی در مورد شرایط داخلی مصر داشت.

عمروموسی اخیرا به دنبال کناره گیری حسنی مبارک طی ۱۰ سال اخیر بود و هرگز ندیده ام در مورد اصلاحات سخنی به میان بیاورد. در مورد زمان حرفی می زنم که نسل جدیدی به روی کار آمده است.

خالد فهمی، رییس دیپارتمنت تاریخ پوهنتون امریکایی قاهره می گوید: سن عمروموسی به ضرر او است. فکر نمی کنم، او کاندیدایی شود که اکثر مردم از او حمایت کنند. او بسیار پیر است و در ذهن جوانان مصری کاندیدای ایده آل نیست. محبوبیت وی مربوط به یک دوران دیگر است.

قوانین جدید انتخابات ریاست جمهوری هنوز تعیین نشده است. اگرچه رهبران نظامی مصر وعدهٔ برگزاری یک انتخابات دموکراتیک را داده اند.

خیلی ها معتقد اند که هنوز بسیار زود است، بگوییم اردو به مصری ها اجازه می دهد، آزادانه رای دهند.

اردوی مصر اعلام کرده که ظرف شش ماه قدرت را واگذار خواهد کرد و احتمال می رود، همه پرسی در مورد تغییرات در قانون انتخابات نیز، ظرف دو ماه آینده برگزار شود.

موسسهٔ سیاست نزدیک واشنگتن اخیرا در نظرسنجی در دو شهر مصر اعلام کرد که عمروموسی از حمایت ۲۵ درصدی، عمرسلیمان از حمایت ۱۷ درصدی، البرادعی از حمایت ۱۳ درصدی و ایمن نور نیز، از حمایت یک درصدی برخوردار است.

یک دیپلومات مصری نیز، عمروموسی به رد مواضع اسراییلی ها در مورد فلسطینی ها مربوط می شود. این مواضع عمروموسی باعث شد، تا براساس اعلام هفته نامهٔ تایم در سال ۲۰۰۱ ترانه یی مردمی منتشر شود که در آن گفته شد: "من از اسراییل نفرت دارم، اما عمروموسی را دوست دارم." به رغم تردیدها در مورد توانایی عمروموسی برای ادارهٔ مصر، برخی ناظران نیز، از وی به عنوان یک شخصیت زیرک و کاریزماتیک یاد می کنند.

عبدالمنیم سید، مدیر با نفوذ مرکز مطالعات سیاسی و استراتیژیک الاهرام می گوید: عمروموسی دوست من است، اما به او رای نخواهم داد؛ چون او بخشی از رژیم حسنی مبارک طی ۱۰ سال اخیر بود و هرگز ندیده ام در مورد اصلاحات سخنی به میان بیاورد. در مورد زمان حرفی می زنم که نسل جدیدی به روی کار آمده است.

خالد فهمی، رییس دیپارتمنت تاریخ پوهنتون امریکایی قاهره می گوید: سن عمروموسی به ضرر او است. فکر نمی کنم، او کاندیدایی شود که اکثر مردم از او حمایت کنند. او بسیار پیر است و در ذهن جوانان مصری کاندیدای ایده آل نیست. محبوبیت وی مربوط به یک دوران دیگر است.

قوانین جدید انتخابات ریاست جمهوری هنوز تعیین نشده است. اگرچه رهبران نظامی مصر وعدهٔ برگزاری یک انتخابات دموکراتیک را داده اند.

خیلی ها معتقد اند که هنوز بسیار زود است، بگوییم اردو به مصری ها اجازه می دهد، آزادانه رای دهند.

اردوی مصر اعلام کرده که ظرف شش ماه قدرت را واگذار خواهد کرد و احتمال می رود، همه پرسی در مورد تغییرات در قانون انتخابات نیز، ظرف دو ماه آینده برگزار شود.

موسسهٔ سیاست نزدیک واشنگتن اخیرا در نظرسنجی در دو شهر مصر اعلام کرد که عمروموسی از حمایت ۲۵ درصدی، عمرسلیمان از حمایت ۱۷ درصدی، البرادعی از حمایت ۱۳ درصدی و ایمن نور نیز، از حمایت یک درصدی برخوردار است.

یک دیپلومات مصری نیز، عمروموسی به تصریح کرد: مقام های ارشد مصر او عمروموسی به عنوان یک فرد غیرنظامی یاد می کنند؛ بنابراین، فردی است که با نظامیان متفاوت است.

اگرچه عمرو موسی در صف اول جنبش سرنگونی رژیم حسنی مبارک قرار نداشت، اما به نظر می رسد که نام او بیشتر از البرادعی یا ایمن نور بر سر زبان مصری ها در این مقطع زمانی قرار دارد.

ادوارد اس واکر، سفیر سابق امریکا در مصر از سال ۱۹۹۴ تا ۱۹۹۷ و کسی که همکاری نزدیکی با عمروموسی داشته تصریح کرد: عمروموسی یک پایگاه مستقل برای خود ایجاد کرده است و مردم او را دوست دارند؛ چون از وی به عنوان یک آلت دست امریکا یاد نمی شود.

اگر عمروموسی، ایمن نور و البرادعی رییس جمهور مصر نشوند، عمر سلیمان نیز، از اقبال خوبی برای حضور در سمت ریاست جمهوری برخوردار نیست؛ چون از او به عنوان یک فرد نزدیک به حسنی مبارک یاد می کنند.

مدیر مرکز الاهرام گفت: من به دنبال فردی هستم که در دنیای فعلی زنده گی کند.

از نکات مهم در صورت حضور احتمالی عمروموسی در سمت ریاست جمهوری مصر، پایان صلح ۳۲ ساله میان مصر – اسراییل خواهد بود.

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده هفدهم ۶– انتخاب ۵ عضو دیگر کمیته مطابق با مفاد پاراگرافهای ۲،۳ و۴ این ماده و به دنبال سی وپنجمین تصدیق یا الحاق صورت خواهد گرفت. دوره عضویت دو نفر ازاعضای فوق در پایان دو سال خاتمه خواهد یافت و اسامی این دونفر قید قرعه و توسط رییس کمیته اعلام خواهد شد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادہ ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :– ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com